صدقه مال نه کموي، او الله تعالی په بخښنې سره بنده ته نه زياتوي مګر عزت، او هېڅوک د الله تعالی په وړاندې تواضع نه کوي مګر دا چې الله تعالی يې لوړوي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «صدقه مال نه کموي، او الله تعالی په بخښنې سره بنده ته نه زياتوي مګر عزت، او هېڅوک د الله تعالی په وړاندې تواضع نه کوي مګر دا چې الله تعالی يې لوړوي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې: صدقه مال نه کموي، بلکي له هغې څخه آفتونه لرې کوي او الله تعالی يې خاوند ته په بدل کې لوی خير ورکوي، نو دا زياتوالی شو، نه کموالی. او د غچ اخستلو او يا رانيولو د توان سره سره بخښنه کول د انسان قوت او عزت زياتوي. او هېڅوک د الله جل جلاله لپاره عاجزي او خاکساري نه کوي؛ نه د چا له وېرې، نه د جوړ جاړې په خاطر او نه د هغه څخه د ګټې په لټه کې، مګر دا چې د هغه اجر به د مرتبې او شرف لوړېدل وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5512